استقلال خپلواکی
www.esteqlaal.net

پوهاند عبدالحی حبیبی ۰۹ نوامبر، ۲۰۲۴

# د آرین د کلمې ریښه په پښتو کي



تقریباً درې زره کاله دمخه د آرین اقوام له خپله مرکزه راغله، او د پښتونخوا پر خوا ځیني هند ته ولاړه او ځیني ایران ته ولاړه، او ځیني دلې د "پښتونخوا" په مځکو کي پاته سوه. آرین د انسانانو د یوه لوی او مهم ټُکم نوم دی، چي په دنیا کي د مدنیت خپروونکي او د لویو حکومتو جوړوونکي دي.

ځکه چي د دې ټُکم انسانان د پښتونخوا له شاوخوا څخه خپاره سوي دي، نو د دوی هغه اصلي آریایي ژبه هم ښایي چي دلې پاته وي، یا د دې ځای ژبې هغې ژبې ته ورنژدې وي. (ګوستالوبون دغه اصلي ژبه په تاریخ تمدن هند کي "آریك" بولي). زه غواړم په دې څو لیکو کي په خپله دغه د (آرین) پر کلمه پلټنه او څېړنه وکم، چي دا زره کلمه په پښتو کي خورا زړه ریښه هم لري، اوسني. محقق مؤرخین وایي چي آریانان هند ته راغله، دوی ځانونه آرین یعنی اصیل او شریف بلل، او د هندوستان زاړه باشندګان چي دوی وشړل (داسو) یې بلل، د هند په زاړه کتاب (رګویدا) کي هم دغه دوه نومونه راغلي دي[۱].

ډوکتور دبلیو هنټر د هند مؤرخ لیکي : چي آریانانو ځانونه شریف النسل او اصیل ګڼه، او هغه پردي اقوام یې دیسیو او ډښت بلله چي معنا یې (دښمن) ده[۲].

salamwatanam@gmail.com

رګويدا وايي چي آريانان ډېر عمرونه د داسو سره په جګړو اخته وه، د رګويدا په مناجاتو کي دوی ډېر ځله له ښمنتنه د داسو تباهي غواړي[٣]. دا خبره چی دوی ځان آرين باله له رګويدا ښخه ثابته ده[٤] په اوستا کي هم وايي چي ښمنتن د آرين مځکي او د آرين ټُکمونه پيدا کړه[٥].
دغسي هم په اوستا کي د آرين مځکي (آريانا ويجه) بولي او د دې ټُکم شپاړس مملکته ذکر کوي، اوستا وايي آريانا ويجه يو مملکت وو چي ښه اوبه، ښه هوا او حاصل ورکوونکي مځکي ې درلودې[٦].
دمخه هم ما په طلوع افغان کي کښلي وه چي دغه زړه کلمه چي د اوستا له عصره پاته ده يعني (ويجه) تر اوسه هم په پښتو ژبه کي ژوندۍ ده، په کندهار کي عامه محاوره ده. وايي (د خدای پر اوېجه مي نه پرېږدي، يعنی د خدای پر مځکه) اوېجه چي اوس په پښتو کي سته، هغه زړه آريايي کلمه ويجه ده چي کټ مټ په هغه زړه معنا او شکل ژوندۍ ده اما د داسو يا ديسيو يا ډښتي کلمي چي په رګويدا کي يې اوس وينو، دغه کلمي په پښتو (دښمن) او په پاړسو (دشمن) بولي، زما په خيال چي له هغه زاړه اصله دغه کلمي اوس هم په پښتو او پاړسو کي پاته دي.
لکه دغه کلمه په پښتو کي (دښن، دښنه، دښني) هم راغلې ده. مثلاً خوشحال خان وايي :-
چي دښنه يې د اولاد او د اصحاب وي
په وکښنه يې د بېـــــــخ او د تبار يم
يا :-
په دښنو کي چي د جنګو خرخښـــې وي
ته بې غمه خپل هوس کړه خپل ښکارونه
نو دښمن ، دښن، دښنه ټوله د دغي ريښي سانګي دي، چي د رګويدا په ژبه يې هم معنا دغه (خصم) وه او اوس هم ده.
اوس به نو خپل اصل مطلب ته ولاړ سو، لکه دمخه چي اوښاره سوه، پخوا د اوستا د عصر خلکو ځانونه آرين بلل، زاړه مؤرخين هم دوی په دغه نامه بولي. هيروډوټ هم د دغه نوم قدامت بيانوي[٧]. سترابون Strabon د يونان مؤرخ هم (آرينه) راوړي.
ډوکټور ويلهلم جيګر المانی چي په زړو ژبو او د آريانانو د زاړه تمدن يو محقق پلټونکی دی، ليکي : "د آريا اشتقاق له آر ښخه سوی دی، په سانسکريټ ژبه اوس هم آر د "اصلي" په معنا سته، آريه يعنی اصيل، دا نوم پر پرهېزګار او شريف او نجيب او راست باندي هم اطلاق سو[٨].
په پښتو کي اوس هم د (آره) کلمه سته، ځيني قبايل يې د بنياد او اصل په معنا اخلي[٩]. دا کلمه په پښتو کي پخوا ډېره مستعمله وه، په ادبياتو کي هم داخله وه، له دې لاندني ادبي اسنادو ښخه يې استعمال او معنا ښکاره کيږي، مثلاً ملا الف هوتك چي بحرالايمان يې په (١٠١٩ هـ) کي

نظم کړی دی، په یوه ځای کي داسي ویلي دي [۱۰] :-

دی له آره وو ښـاغـلـی
څه که سو په ویر نتلی

بل یو د پښتو ادیب اکبر چي د ده د ژوند زمانه ماته نه ده ښکاره وايي[۱۱] :-

د غم آره يي سوه تيږنګه زما په زړه کي
د رقیب سره خندا کــــــړي هوسیږي

په دې ډول آره هم په محاوره کي داخله هم په ادبیاتو کي راغلي ده، او معنا يي هم هغه د ویلهلم جیګر الماني له قوله سره سمه ده، که څه هم زه دا دعوه نه کوم چي د (آرین) کلمه د پښتو پر اصولو او ګرامري قواعدو برابره جوړه سوې ده، مګر د پښتو پر اوسنيو صرفي اصولو خو خورا سمه ده، (ین) خو د پښتو د نسبت یوه مطرده کلمه ده، چي ډېره استعمالیږي، مثلاً : ژړ _ ژړين (برنجي). که د کلمې په پای کي (ه) وه حذفیږي مثلاً : خاوره _ خاورين (خاکی).

دا زما تاریخي ملاحظات چي پر فقه اللغه مبنی او پر تاریخي اسنادو متکي دي ښايي چي حقیقت ته هم نژدې وي، او زموږ د ژبي په تاریخي پلټنو کي بې ګټي نه ولوېږي، دوه تنه نور د تاریخ پلټونکي یعني هنټر او میکس مولو وايي چي د آریا کلمه د (آر) له مصدره مشتقه ده او په زړه سانسکریټ کي کرهني ته ویل، نو آریا یعني کرونکي.

دا نظریه هم له نظریې سره د ډوکټور جیګر تطبیق خوري ولي چي آرین اصیل او شریف ته وايي، او د رګویدا او اوستا له مضامینو دا هم ښکاره ده چي پخوانو آریانانو زراعت او کرهنه یو شریف کسب ګاڼه، مثلاً وید کښي وايي : "یوه انسان او روڼ عقل سړی، تل جوغ چلوي، او د کرهني لپاره کار کوي ... [۱۲]" نو په دمخنیو آریانانو کي کرهني خورا لوړ مقام درلود، اوستا د زراعت ښه تعلیمات لري، په دوی کي هر زارع شریف ګڼل کېدی او هر اصیل او شریف زارع. نو ځکه د کرونکي سره اصالت او نجابت او د نجیب سره کرهڼه لازمه وه، دې لزوم د آرین په کلمه چي اصلاً د اصیل په معنی وه، د زارع مفهوم ګډ کی، او دا لغوي تطور هم د آریانانو د زاړه زراعتي روح نتیجه ده، او د تاریخ د پلټونکو اقوال هم په دې راز تطبیق مومي[۱۳].


لمن لیکونه:

۱ .د هند زوړ تاریخ د کی، ایم پانیکار ، ج ۱ ص ٤.

۲ .د هند د خلکو زوړ تاریخ د ډوکټور هنتر.

۳ .د هند زړو تاریخ د پانیکار ص ٥.

٤ .رګوید ج ۳ _ ۲۰۷.

٥ .یشت فصل ۹ فقره ، ٥٦ _ فصل ۱۰ فقره ٤، ۱۳ _ فصل ۱۳ فقره ۸۷.
٦ .د ایران تاریخ د هن پیرینا ص ۱۱.
۷ .هیرودوت ج ۷ ص ٦۲.
۸ .د شرقي آریانانو تمدن ج ۱، ص ٦٥.
۹ .سپیڅلي پښتو ص ٤۲ _ او د پښتو قاموس د پښتو مرکې.
۱۰ .د ملا الف هوتك قلمي آثار.
۱۱ .د اکبر د شعر قلمي اوراق.
۱۲ .یجر وید فصل ۱۲ _ فقره ٦۷، ٦۹، ۷۰.
۱۳ .طلوع افغان، ۱۳۱۹ د غوایي ۸ مه، د اولسم کال لومړۍ ګڼه، ٥۰ مخ.

پای